د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهار شنبه ۰٦ رجب ۱۴۴۰هـ    ۱۳-۰۳-۲۰۱۹م    گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰٦

## مطبوعاتي اعلاميه

# لويه جرگه د خلكو واقعي نظر نه، بلكې د امريكا او د هغې د لاسپوڅو سياسي اجنډا څرګندوي

د افغانستان جمهوري رياست د يوه فرمان له مخې د ۱۳۹۸ لمريز كال د ثور نهمه د سولې لپاره د مشورتي جرګې د جوړېدو نېټه ټاكلې ده. د دغې جرګې څرګنده موخه د خلكو د استازو د مشورو او نظرونو اورېدل، حلالره لټول او د سولې د مذاكراتو د پروسې ګړندي كول بلل شوي دي، ترڅو د جرګې په پاى كې دولت ته د سولې تګلاره وټاكي.

د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دې لويې جرګې جوړېدل د هغو لاسپوڅو چارواكو ناكامه هڅه بولي، چې بادار يې له طالبانو سره د امريكايي سولې له پروسې څخه څنګ ته كړي او غواړي له دې لارې په ښكېلو اړخونو فشار راوړي ترڅو دوى هم د سولې په پروسه كې ورګډ كړي. له بله اړخه هڅه كوي چې د دې خاورې د خلكو پر وړاندې د هغوى څه د پاسه يوې نيمې لسيزې پر خيانتونو پرده وغوړوي او په پاى كې ځان دروغجن اتل وښيي.

موږ د لويې جرګې ډېر اوږده تاريخ ته اشاره نه كوو، بلكې د تېرو ۱۸ كلونو په اوږدو كې مو وليدل چې لويې جرګې څنګه د ښكېلاكګرو په ګټه پاى ته رسېدلې دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۰۴م كال د اساسي قانون د لويې جرګې له لارې اوسنى اساسي قانون د يوه غير اسلامي او فرمايشي قانون په توګه د امريكا له خوا د افغانستان پر خلكو و تپل شو. په ۲۰۱۳م كال كې له امريكا سره د امنيتي تړون د لاسليك كولو لويه جرګه چې د خلكو د استازو په نامه د امريكا د سفارت رشوت خوړونكي پكې راټول شوي وو او د رايو په اكثريت يې له يرغلګرې امريكا سره د دغه شرموونكي امنيتي تړون غوښتنه وكړه، چې اوسني دولت د خپل كار په لومړۍ ورځ ورسره لاسليك كړ او اوس يې يو ځل بيا د سولې لپاره د مشورتي لويې جرګې غږ پورته كړى، ترڅو پر خلكو يوه بله استعماري اجنډا وتپي.

په داسې حال كې چې د اسلام مبين دين د خلكو په چارو كې مشوره پر چارواكو باندې د رعيت حق ګڼي، دغه ډول مشورتي لويې جرګې تل د ناروا كارونو د رواوالي، د استعمار د سياسي اجنډاګانو د تطبيق او د خلكو د واقعي نظر د چوپتيا په موخه د لاسپوڅو چارواكو او د هغوى د بادارانو په فرمايش جوړې شوې دي. له همدې امله حزب التحرير-ولايه افغانستان يو ځل بيا د افغانستان مجاهد ولس مخاطب كوي؛ چې د لويې جرګې له سوړې څخه بيا و نه چيچل شي او د امريكا او د هغې د مزدورانو د سولې د اجنډا لپاره ناوړه وسيله ونه ګرځي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**